# غوره وینا

## او د هغې څلور ستنې او بنسټونه

په هره ژبه ډېر وګړي لیکونه کوي خو څینې لیکوال ګړندۍ او غښتلي وي، او څینې هم بې واکه او بې سېکه، مګر کم لیکوال غښتلي دي؟ او که یو نا غښتلي؟ د دې پوښتني غبرګون لاندې واروئ

چا له یو استاده پوښتنه وکړه چې کم کلام بلیغ او خوږ دئ؟ او کم لیکوال مقتدر او ګړندی لیکونکی دئ؟
استاد ورته و ویل د دې پوښتني غبرګـون خـو اوږد دئ او هـم هر سړی په دغه کې بېله رایه او ځانته فکـر او عقیـده لـري، خـو زه وایم چې بلیغ کلام هغه دئ چې "جمهور ئې خوښوي، نظم وي که نثر شعر وي، که سندره."
په دغه ځواب کې استاد حـق درلـود ځکـه چـې د جمهـور پـر مذاق سم کلام بلیغ وي، فصیح وي، غوره وي، مګر دلتـه جهمـور د عوامو په معنی نه دئ، بلکـې د ادب پـه نظـر کـې جمهـور "ټولنـه، ملت، اولس" دئ په اولس کې هـر راز وګـړي وي، ناپوهـان وي، لوړ وي، خوږ وي، نو هغه کلام چې دغه طبقات یې ټـول خوښـوي، بهترین کلام دئ. پنځلس کاله وسوه چې دغه پوښتنه ما له استاده کړې وه، او دغه ځواب مي اروېدلی وو، لنډ اما جـامع ځـواب دئ. خو لږ څه شرح غواړي، او زه یې په دغه مقاله کې څېړم.

هغه ژبه چي جمهور يې خوښوي يعنی هم خواصو ته ښه ايسي او هم عوامو ته خوند ورکوي، او ښه په پوهيږي عموماً څلور اساسي مراندي لري که دغه ستني نه وي نو د هغې ژبې چت او بنا نه دريږي، او نه يې څوک خوښوي مقتدر ليکونکی هغه څوک دئ چي د ژبې دغه څلور عنصره هر کله د ده په ليک کې په معتدله درجه موجود وي او پر يوه خوا ډير مايل او څارو نه وي.

١. لغوی او تحت اللفظی معاني.
٢. د کلماتو ارت معاني او وسيع ډگرونه.

دا دوه عنصره په معنی اړه لري. مگر دوه نور د الفاظو په رغ او تلفظ اړه لري :

١. د کملاتو د هجايي صوت او مقاطعو رغونه او آهنگونه او ډولونه.
٢. د کلماتو د نښلولو او جمله بندی صور چي د دغو څلورو مراندو لړ لړ شرح لاندي ليکم :

(١) د کلماتو لغوي معاني او ترتيب :

هره کلمه په لغت کي مخصوصه معنی لري او د ژبي گرامر (صرف و نحو) د هغې کلمې ډول او د استعمال او اوښتلو اصول راښيي.

کلمات د لغت او گرامر له پلوه د کلام او ليک او شعر اصلي د ستي تيري دي. مگر د دغو تيرو جوړونه او لتورنه او سموبه او هم پر خپل ځای ايښودنه د گرامر وظيفه ده.

د يوې وينا يا يوه ليک يا شعر د تنقيد او گوت مندې لپاره هم لمړی پلا مفردو الفاظو او کلماتو ته د لغت او گرامر له پلوه کتنه کيږي، چي آيا د دغو کلماتو معاني او مفاهيم مقصد اداء کوي که يا؟ وروسته د کلماتو ترتيب او اوډنه تر نظر لاندي راځي. که دا دواړه پلوه ښه او سم وه، نو مور وايو : چي دا کلام د لغت او گرامر



له پلوه سم دئ، غلطی نه لري، او يو گرامري کلام دئ، د وينا د تنقيد لمړی مرحله همدغه ده. مگر دا په ياد ولرئ چي يوازي په دغه مزيت يوه وينا د فصاحت او بلاغت لوړي درجې ته نه رسيږي، بايد دغه لاندي درې نور مزايا هم پکښي موجود وي.

مثلاً دا جمله (په پټو د پټو پلټنه) که څه هم د لغت او گرامر په حکم کم نقص نه لري مگر سره د دې هم نه سو ويلای چي دا يو برجسته او لوړ ادبي تعبير دئ، يا لکه دا بيت :

د ابوالقاسم غرض د يار وصال دئ
خدای يې لا برکت کېږده په همت کي

دلته هم د ترکيب او د لغاتو د انفرادي نوعيت له لامله کم نقص نسته، خو د بيان کمزوري او د اداء ضعف ښه پکښي څرگند دئ.

**(٢) د کلماتو توارت مفاهيم** :

کلمات او الفاظ کله کله خپلو اصلي مفاهيمو چي په لغت کې لري، ځيني ارت او وسيع معاني هم مومي، چي دغه پراخ او ډول ډول مفاهيم د مجاز او نوي نوي استعمال له لاري يو لغت ځانته مومي. يا دا چي هغه لغوي مفهوم داسي دئ لکه يوه مرکزي مندکه چي د مېوې په منځ کي وي، که څه هم د مېوې اصل او بنسټ هغه مندکه ده، خو بيا هم اصلي مېوه نه د هغې مندکي خوند لري نه يې رنگ، بلکي مېوه پخپل خوند او رنگ ډېره خوره او خوندوره وي، اما ښايي چي مندکه ترخه وي. د کلماتو ارت مفاهيم هم دا شانته دي، چي کله کله له خپلي اصلي او حقيقي لغوي معنا سره بالکل تشابه نه لري، هغه مرکزي مندکه چي د لغت اصل بلل کيږي، کوچنی وي، بد رنگه وي، ترخه وي مگر هغه ونه چي له مندکي څخه راوزي، او هغه مېوه چي بيا يې دغه ونه کوي، د اصلي مندکي سره کوږټ نه قياسيږي. د کلماتو ارت مفاهيم کټ مټ دغسي دي.

يو ګرندی ليکوال او غښتلی شاعر کولای سي چي د کلماتو دغه نوي نوي او خواږه ـ خواږه مفاهيم د خپل کلام د خوږتيا لپاره استخدام کړي اما په دې ډول چي د هغه لغت نور مفاهيم د کلام بلاغت وران نه کړي، او هم رکاکت پکښي وارد نه سي.

د مثال په ډول د پيرمحمد کاکړ دغه بيت د لوستلو وړ دئ، ده دلته غاړه چي د لغت له پلوه فقط (ګردن) ته وايي، په خپل ارت ادبي مفهوم په داسي استادي په خپل شعر کي راوړې ده، چي د شعر کمال ورته ويلای سو :

محبت په غم شريک کړم د غمجنو
د هر چا په غاړه ژاړم لـــــکه نی

وګورئ !

(۱) نل ته غاړه وراچول د ژبي مخصوص تعبير دئ.

(۲) پر غاړه ورسره ژړل، بله اصطلاح ده.

(۳) نل د هر چا په غم کي ورسره ژاړي، يا دا چي د هر چا په غاړه ژاړي. دا د شاعر کمال دئ د يوې کلمې لغوي او هم ادبي او اصطلاحي ارت مفاهيم يې په داسي ډول په يوه بيت کي ځای کړه چي ويونکي ته هم په خوله کي ښه خوند ورکوي، او هم په زړه کي.

بل مثال يې د خرښبون بابا په دې بيت کي د (مراندي) کلمه ده:

نه هېرېږي که مي بيانه ستا يادي کـئ
په چړو د وير به پرې سي د زړه مراندي

مراندي په حقيقت کـي د کـږدۍ او خيمې تناوونـه دي د زړه مراندي د زړه رګونه او شرائين دي، د زړه مراندي پرېکېدل، د وير په چړو داسي بيلغ تعبير دئ، چي د شاعر کمال څرګندوي.

**د کلماتو رغونه او تلفظ** :

بېله دوو لوړو ادبي شرطو چي د کلام د حسن لپاره ضروري دي، دکلماتو رغونه او تلفظ او د ويلو او لوستلو سهولت او د جملو



او خبرو د نښلولو اصول هم د غور وړ دي : په کلام کي داسي رغونه سره يو ځای کول چي تلفظ يې پر غوږو درونـد نـه وي، يـا د طبايعو ملال حاصلوي، يا د حروفو او تورو د رغو تنافر، لوی عيب او ادبي نقص ګڼل سي د کلام رواني او سلاست هم پر دغه اساس بناء کيږي.

سلاست او د کلماتو رواني او خوش آهنګي کولای سي چي د يو کلام نور عيوب پټ کړي، يعنی د شاعر او اديب ځيني غريب او نتلي کلمات په روان او سليس ډول استعمال کړي، هم د ده شعر ته د عيب او نقص د نيمګړتيا ګوته نه نيوله کيږي لکه د متنبي دا شعر :

بياض وجه يريک الشمس حالکه
و در لفظ يريک الـــدر مخشلبا

په دې بيت کي که څه هم مخشلب غريب او وحشي لفظ دئ، مګر چي شاعر پخپله استادۍ په ښه ډول په شعر کي ځای کړيدئ نو د غرابته سره جايز دئ.

(۳) **د کلماتو هجايي رغونه** :

د کلماتو د حروفو ترکيب او هم هجايي رغونه او ټول ډولونه د ژبي د بلاغت دريم عنصر دئ، ښايي چي د کلام د ټولو لغاتو او کلماتو هجاوي بد رغه او بد آهنګه نه وي، په ويلو کي رغونه مستحسن او پر مذاق سم وي، مانوس وي، مستکره اصوات نه وي پکښي چي پر غوږ ذرانه ولګيږي، شاعر او اديب هره کلمه پر خپل ځای او د ضرورت پر موقع استعمالوي، کله چي ضرورت وي الفاظ درانه او متين او ډبرين استعمالوي يعني د هجايي رغو څخه کار اخلي، احساسات پکښي تصوير کوي، مثلاً فردوسی د جنګ په تصوير کي په دې آهنګ کلمې په يوه مسرۍ کي سره يو ځای کوي :

"بغريد غريدينی چون پلنګ"

د کلماتو په هجايي اصواتو کې اکثر اديب خپل کمال او خپل احساسات څرګندوي، د هيبت پر ځای مهيب او متين کلمات ږدي، د پوستوالي او نرمۍ پر ځای پاسته او نري الفاظ وايي، د دغو الفاظو هجايي رغونه هم د موقع سره سم وي، خو د کلام عمومي سلاست او مطبوعيت هيڅکله نه هېروي، ستکره اصوات په کلام کې نه سره يو ځای کوي.

(۴) **کلمات نښلول او جمله بندي**:

دا آخرنی او وروستنی شرط دئ يو خو پخپله کلمات او الفاظ بايد ملايم او متناسب او خوش آهنګ وي، بل يې په جملو کې سره اوډل او نښلول بايد خورا پر ذوق او سليقه سم وي.

د يوه شعر او کلام درناوی او خوږوالی او بلاغت هم دغه دئ، چې د جملو کلمات يې بې ځايه نامربوط او سره کړکېچن نه وي. د کلام استاید تل دغي خواته توجه کړي، او دوی وايي چې ډېر داسي اشعار او جملې او کلامونه سته چې الفاظ يې منفردا ډېر اعلی او سليس او خوندور وي مګر د ترکيب له لامله خورا بې خونده سوي وي. د انفرادي سلاست سره يې مجموعي ثقالت ملګری وي، لکه د ابو تمام دا بيت:

مستسلم لله سايس امــــه
بذوی تجهضمهاله استسلام

يعنی: "د خدای فرمانبردار د قوم حکمران دئ او لوی لوی مشران ورته تسليم دي" د ادب ناقدين وايي چې د دې بيت کلمه کلمه روانه او خوږه ده، مګر چې د ترکيب په قالب کې سره راغلي دي ثقالت يې موندلی، دئ، د فردوسي دغه بيت هم د ادب پوهان دغسي ګڼي:

زسم ســــــتوران دران پهن دشت
زمين شش شد و آسمان ګشت هشت

دا بيت هم د کلماتو له لامله چې بېل بېل يې وګورو فصيح دئ خو ترکيب په ثقالت کې اچولی دئ. وګورئ! د حميد دغه بيت د معنا او



تخيل له پلوه څوني خوږ دئ، مګر د کلماتو ترکيب اوډني څنګه درونـد کړئ دئ؟ (مخصوصاً دوهم مصرع):

چې پيرۍ مې ږيره سپينه کړه ملا بغرګه
بويه قد د سرو قد عصـــــا تر تخرګه

بالعکس په دا بدله کې د ده دا بيت څنګه سهل او سپک او خوږ او د ترکيب له پلوه غوره دئ؟

په راستي مې د خپل اه هسي باور دئ
چې همدم به يم د ښکليو پسله مـرګه!

نو د فصيحو ليکلو او بليغو ليکلو لپاره بويه چې تل په ژبه کـې د دغو څلورو عنصرو مراعات وسي ولي چې هر کلام بېله دغو څلورو ښېګړو بې خونده وي. او ادبي قيمت يې هم لږ، بلکي هيڅ هم نـه وي، کـه يـو لـه دغه څلورو ښېګړو څخه کم وي، د هغه کلام ارزښت هم په هغه تکانـه لـږ وي. دا يوازي د شعر او نظم ښېګړي نه دي، بلکي د نثر او عمومي ليکلـو مزايا هم دي. يو د نثر ليکوال هم لکه شاعر مجبـور دئ چـې دغـه مزايـا پخپل ليک کې سره غونډ کړي. معاني او د کلام مطالب. اکثـراً خـوښ او غوره او مقصود نه دي، مګر چې د کلام ظاهري ترکيب او نښلونه او اوډنه ښه او غوره وي هغه کلام د خلکو خوښېږي او وايي يې. د کلماتو انسجام او سلاست او ترکيب او سوچه تـوب او سـپېڅلوالی پـر ويـونکي بانـدي سحري اغيزه کوي. که څه هم د کلام مقصد يې خوښ نه وي، خو د هغـه ظاهري بداعت او نفاست يې هـرو مـرو زړه خوځـوي، متنبـی دا مطلـب خورا ښه اداء کړيدئ:

واسمع من الفاظ اللــــغه التی
يلذبها سمعی ولو ضمنت شتمی

يعنی: د ده له ژبې څخه الفاظ اورم، چې غوږونـه مـې خونـد څنـې اخلي که څه هم په هغو کې ښکنځل وي. دغه د يوې وينا نهـايي ښېګـړه او غوره توب دئ چې د اورېدونکي غوږونه يې هرو مرو د اورېـدلو هيلـه لري. (۱)

(۱) کابل مجله: ۱۳۲۳ ل کال، لومړی ګڼه. ۲ _ ۵ مخونه.